# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو آمریت

# خبري بلوټن

# News Bulletin

**17 جوزا _سال 1402**



# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان صفحه


بیش از 500 خانواده درولایت خوست کمک شد ---------- 1

بلخ کې (۱۷) کورنیو سره مرستې وشوې ---------- 1

بریتانیا حدود یک هزار پناهجو را در دو سرپناه شناور اضافی اسکان می‌دهد ---------- 2

آلمان ۱۸۷۸ پناه غوښتونکي بېرته پولنډ ته استوي ---------- 4

پولیسو په شمالي مقدونیه کې لس قاچاق وړونکي نیولي دي ---------- 6



خبرنامه

# متن کامل اخبار

## بیش از 500 خانواده درولایت خوست کمک شد

ویب سایت وزارت



ریاست امورمهاجرین و عودت کننده گان ولایت خوست از توزیع مواد خوراکی برای 504 خانواده بیجاشده  به تاریخ 15 جوزا خبرداد.

خانواد های یادشده ازطرف اداره مهاجرین با هماهنگی موسسه AHF قبلا درولسوالی سپیری سروی وشناسایی شده بودند.
کمک یاد شده شامل 4 قلم  مواد خوراکی بود که برای آنها توزیع شد.

## بلخ کي (۱۷) کورنيو سره  مرستي وشوي

د وزارت ویب سایت



د (NRC) موسسي له لورې د بلخ ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په همکارۍ ( ۱۷) کورنیو سره د غبرګولي په (۱۵) مه نغدي مرستې وشوې.

دغه کورنۍ چې مخکې د بلخ ولایت د مهاجرینو چارو ریاست له لورې په ابو دوجانه کمپ او بلخ او چمتال ولسوالیو کې سروې او د مرستو لپاره مستحقې په نښه شوې وې هرې کورنۍ ته په دوو کټګوریو کې ( ۳۵) زره او (۳۹) زره افغانۍ نغدې ووېشل شوې.

## بریتانیا حدود یک هزار پناهجو را در دو سرپناه شناور اضافی اسکان می‌دهد

مهاجرنیوز




**حکومت بریتانیا اعلام کرد که دو سرپناه شناور اضافی را برای اسکان حدود یک هزار پناهجوی دیگر اختصاص خواهد داد. لندن که مبارزه علیه مهاجرت غیرقانونی به این کشور را تشدید کرده، در ماه می از اسکان حدود ۵۰۰ مهاجر در اولین سرپناه شناور خبر داده بود.**

**ریشی سوناک، نخست وزیر بریتانیا روز دوشنبه در شهر بندری دوور اعلام کرد که حکومت حدود یک هزار پناهجوی دیگر را در دو سرپناه شناور اضافی اسکان خواهد داد.**

**نخست وزیر بریتانیا همچنین از ایجاد دو مرکز دیگر پذیرایی از پناهجویان در خشکه نیز خبر داد. این دو مرکز که مجموعاً ظرفیت ۳۰۰۰ پناهجو را خواهند داشت تا خزان امسال فعال خواهند شد.**

**این در حالیست که لندن در ماه می گذشته اعلام کرده بود که حدود ۵۰۰ پناهجو در اولین سرپناه شناور در این کشور اسکان داده خواهند شد. قرار است این سرپناه شناور تا دو هفته دیگر فعال گردد.**

**در همین زمینه :رسانه ها: لندن می خواهد ۵۰۰ مهاجر را در یک سرپناه شناور اسکان دهد**

**حکومت بریتانیا مبارزه علیه مهاجرت غیرقانونی به این کشور را تشدید و تعهد کرده که هزینه پذیرایی از مهاجران در هوتل‌ها را به کاهش خواهد داد. این هزینه سالانه به حدود ۲،۶ میلیون یورو می‌رسد. به گفته مقام‌ها، پناهجویان در مراکز نظامی متروک یا سرپناه‌های شناور اسکان داده خواهند شد.**

»ورود مهاجران غیرقانونی از طریق کانال مانش کاهش یافته«

نخست وزیر بریتانیا روز دوشنبه گفت: «برنامه ما[مبارزه علیه مهاجرت غیرقانونی] در حال عملی شدن است.» او گفت که طی پنج ماه بعد از آغاز اعلام برنامه در دسمبر گذشته، ورود مهاجران غیرقانونی از طریق کانال مانش در مقایسه با همین مدت در سال گذشته ۲۰ درصد کاهش یافته است.«

او گفت که ورود مهاجران غیرقانونی در در سایر کشورهای اروپایی ۳۰ درصد افزایش یافته است.

نخست وزیر بریتانیا همچنین اعلام کرد که در صورت ممکن، از پناهجویان ساکن هوتل‌ها تقاضا خواهد شد تا پناهجویان دیگر را در اتاق‌های شان جا بدهند. او گفت با این اقدام حدود ۱۱ هزار و ۵۰۰ سرپناه اضافی برای پناهجویان ایجاد خواهد شد.

ریشی سوناک به پناهجویان: اتاق‌های تان را با پناهجویان دیگر تقسیم کنید

او خطاب به پناهجویان ساکن هوتل‌ها که مخالف پذیرایی از پناهجویان دیگر هستند گفت: «به شما می‌گویم که این درست نیست. اگر شما به گونه غیرقانونی آمده‌اید تا برای فرار از مرگ، شکنجه و سرکوب در اینجا پناهگاه بیابید، باید اتاق هوتل تان در مرکز لندن را که توسط مالیه دهندگان بریتانیایی تمویل می‌شود [با دیگران] تقسیم کنید.«

حکومت محافظه کار بریتانیا در نظر دارد بیش از ۵۰ هزار پناهجوی ساکن در هوتل‌ها را در سرپناه‌های بدیل اسکان دهد. از این رقم قرار است حدود ۹ هزار پناهجوی افغان تا پایان امسال هوتل‌ها را ترک کنند.

در همین زمینه :بریتانیا می خواهد پناهجویان را در کشتی ها و پایگاه های نظامی اسکان دهد

## آلمان ۱۸۷۸ پناه غوښتونکي بیرته پولند ته استوي

مهاجرنیوز




پولنډي سرحد ساتونکو ویلي چې آلمان و پولنډ د ۱۸۷۸ پناه غوښتونکو د بېرته لېږلو رسمي غوښتنه کړېده.

د پولنډ هیواد چارواکو د دوشنبې په ورځ (د ۲۰۲۳ کال د جون ۵ نېټه) پر خپله ټویټرپاڼه ولیکل چې سږکال په ټولیزه توګه د اروپایي اتحادیې د نورو غړو هیوادونو څخه ورته په ۲۱۸۲ مواردو کې رسمي غوښتنې رسېدلي دي. په دغو رسمي درخواستونو کې د پناه غوښتونکو د بېرته اخیستلو غوښتنه شوې ده. د چارواکو په وینا تېر بشپړ کال دا ډول ۳۹۲۹ غوښتنې شوې وې.

د پولنډ هیواد د سرحد ساتونکو ویاندې و پولنډي خبري آژانس پي اې پي ته ویلي دي چې سږ کال د دبلن تړون له مخې ۳۰۵ پناه غوښتونکي له آلمان څخه بېرته پولنډ ته ولېږدول شول. د دبلن تړون د اصولو له مخې له غړو هیوادونو څخه هغه هیواد د پناه غوښتونکو د پناه غوښتنې د پروسه کولو مسؤلیت لري، چې له لارې یې پناه غوښتونکی اروپا ته داخل شوی وي.

د پولنډي چارواکو ویاندې ورته د بېرته لېږل شوو کسانو په هکله ویلي دي چې هغوی اکثرا هغه څوک وي چې «د پناه غوښتنې له پروسې څخه ناوړه ګټه» پورته کوي. هغې ویلي: «هغوی د نړیوال محافظت لپاره غوښتنه کړې او له پولنډ څخه وتلي، بېله دې چې د محافظت غوښتنې فیصلې ته په انتظار شي.» د هغې په وینا هغه څوک چې د پولنډ وروسته په آلمان کې د پناه غوښتنه وکړي، هغوی بېرته پولنډ ته لېږدول کېږي .

هغې زیاته کړېده چې په نورو مواردو کې بیا د پناه غوښتنې پروسه په کافي اندازه پر مخ تللې وي، او اړونده مهاجرو په پولنډ کې د خپلې پناه غوښتنې د پروسې د فیصلې کېدو وروسته آلمان ته مخه کړې وي.

پولنډ ته زیات شمېر پناه غوښتونکي د سپیني روسیې او نورو هیوادونو له لارې ورغلي دي.

## پولیسو په شمالي مقدونیه کې لس قاچاق وړونکي نیولي دي

مهاجرنیوز




د شمالي مقدونیې چارواکي وايي چې د دغه هېواد درېو ښارونو کې لس تنه د انساني قاچاق په تور نیول شوي دي. دغې ډلې د بالکان هېوادونو له لارې کډوال اروپا ته لیږدول .

د شمالي مقدونیې پولیسو د تېرې دوشنبې په ورځ (د جون ۵مه) په یوه اعلامیه کې وویل چې دغه ډله په یونان، هنګري، بلغاریا او صربیا کې فعاله وه او د ۲۰۰۰ څخه تر ۴۰۰۰ یورو په بدل کې یې مهاجر اروپا ته رسول.

د شمالي مقدونیې چارواکو له تېرو دوو کلونو راهیسې د یادې ډلې په اړه پلټنې کولې. په اعلامیه کې راغلي دي چې د ډلې ۷ نور غړي هم پېژندل شوي دي چې درې تنه یې په زندان کې دي او د پاتو څلورو کسانو د جلب حکم صادر شوی دی. دغه کسان چې د انساني قاچاق تور پرې لګول شوی په ۵ کلونو محکومېدلی شي.

بیا ولولئ :<u>شمالي مقدونیه: یوه کډواله د تلاشۍ پر مهال «په غیر قصدي ډول» وژل شوی</u>

د قاچاقبرو ډلو د فعالیتونو زیاتېدل

له تېرو څو اونیو راهیسي اوروس سپنډ کې د اوبو د کچې له ټیټوالي سره پر دغه لار د قاچاقبرو ډلو فعالیتونه زیات شوي دي. یوناني چارواکو د تېرې یکشنبې په ورځ د اوروس سپنډ یوه کوچني ټاپو کې ۹۱ سوریایي کډوال وژغورل او د کډوالو مرکز ته یې انتقال کړل.

د اروپا پولې ساتنې اداري یا فرانټکس د ۲۰۲۲ په سپتمبر په میاشت کې ویلي وو چې د بالکان لار د کډوالو لپاره د ټرانزیت پر مهمه لاره بدله شوې او کډوال هڅه کوي چې د ترکیې، بلغاریا، شمالي مقدونیې او صربیا څخه ځانونه اروپايي هیوادونو ته ورسوي.

بیا ولولئ :<u>شمالی مقدونیه: امنیتی ځواکونو د ۴۰۰ کډوالو مخه نیولې ده</u>

شمالي مقدونیه د بالکان د لارې په اوږدو کې پروت هېواد دی چې له یونان، بلغاریا، صربیا، کوسوو او البانیا سره ګډه پوله لري. په شمالي مقدونیه کې ګوګلیا د مهاجرو د قاچاق د اصلي سیمې په توګه پېژندل کیږي.